**لوړو زده کړو وزارت**

**تابش پوهنتون**

**محصلانو چارو معاونیت**

**دحقوقي کلینیک مدیریت**

# طرزالعمل / کړنلاره

**کال** **۱۴۰۴هـ ش**

**دحقوقي کلینیک دبورډ غړي:**

**دحقوقي کلینیک تشکیل:**

**دحقوقي کلینیک مدیر:** عبیدالله شینواری

**مدافع وکیلان:** محمد اسلم صمیم او بادام گل رحیمي

**ټراینران:** عبدالله صادقیار او فتح الله محمدي

**سوپروایزر:** مجید الله ماموند او اسدالله محمدي

**د تابش پوهنتون حقوقي کلینیک:**

د سمستر څخه به حقوقي کلینیک د یو اختیاري او دوه سمستره مضمون په حیث په کریکولم کې تدریس شي. دتدریسي کال په لومړي سمستر کې باید معرفي شوي وکیلان دمحصلینو سره په تیوریکي لحاظ کار وکړي او د دعوی دمختلفو پړاوونو، پولیسو، څارنوالی، او حقوقو ریاست له اجراآتو یې خبر کړي. همدا ډول محصلین باید د ذکر شوي وکیلانو دنظارت لاندې ، عریضه لیکل، مشوره ورکول ، صورت دعوی او دفاعیه لیکل زده کړي.

په دوهم سمستر کې به همدغه محصلین دمدافع وکیلانو دنظارت لاندې په حقیقي قضایاوو کې په عملي ډول دمؤکلینو سره مرسته وکړي، هغوې ته مشورې ورکړي، عریضې، صورت دعوی، او دفاعیې باید ولیکي. ددې ترڅنګ دغه محصلین به دحقوقي پوهاوي پروګرامونه په لاره واچوي چې ممکن په سره رود ولسوالی، بهسودو، ښار، کوز کونړ او د پوهنتون په داخل کې داقتصاد پوهنځې محصلینو ته برابر کړي.

مدافع وکیلان به تعهد کوي چې تابش پوهنتون دپالیسیو مطابق دحقوقي کلینیک دغه دوه سمستره پروګرام مخ په وړاندې بوځي. مدافع وکیلان باید دلومړي سمستر درسونه دپریزینټیشن په شکل آماده او د هر پریزینټیشن یوه یوه کاپي حقوقي کلینیک ته سپاري.

په کومو قضایاوو چې دمحصلینو سره کار کوي، باید حقوقي کلینیک ته ددغه قضایاوو یوه یوه کاپي وسپاري.

مدافع وکیلان د پوهنتون دپالیسیو مطابق دحاضرۍ پر ورکړې مکلف دي.

تیوریکي درسونه باید د پوهنتون په داخل کې صورت ونیسي. هغه عملي کارونه چې بیرون تګ ته ضرورت نلري هغه هم باید دمدافع وکیلانو لخوا د پوهنتون په داخل کې ترسره شي.

تابش پوهنتون دحقوقي کلینیک ټولو غړو ته دهغه امتیازاتو پر ورکړه مکلفه ده کوم چې په نورو پوهنتونو او موسساتو کې دحقوقي کلینیک غړو ته ورکول کیږي.

**ټرانسپورټیشن:**

په هغه صورت کې چې محاکمو، څارنوالی، دمدافع وکیلانو ټولنې، حقوقو ریاست او نورو اداراتو ته تګ ضرورت پیښ شي، محصلینو ته باید دټرانسپورټیشن زمینه د پوهنتون دریاست لخوا برابره شي.

**محصلین:**

د هر سمستر لپاره مونږ ضرورت لرو چې (۳۰) تنه محصلین په (جزایې)کلینیکي برنامه کې وروزل شي.

دجذب شـــوو محصـــلینو لپاره به دجزایې، فامیلي، حقوقي اخلاق، حقوقي نګارش او نورو برنامو څخه یوه برنامه دحقوقي کلینیک دشورا له تائیدي څخه وروسته دټاکل شوي مدافع وکیلانو لخوا په لاره اچول کیږي.

که د پوهنتون دکوم علمي کادر لخوا دحقوقي کلینیک تر چتر لاندې کومه عملي او تمثیلي برنامه په لاره اچول کیږي، باید دحقوقي کلینیک دشورا له تائیدۍ څخه وروسته په لاره واچول شي.

**کلینیکي برنامو کې دګډون شرایط:**

**۱** ، ټول کلینیکي برنامې دحقوقو او شرعیاتو پوهنځیو دمحصلینو لپاره په لاره اچول کیږي.

**۲**، دحقوقو او شرعیاتو پوهنځیو دڅلورم ټولګې محصلین پکې ګډون کولای شي.

استثناء: که په څلورم ټولګې کې مونږ سره محصلین موجود نه وي، یا یې کلینیکي برنامې اخیستي وي بیا ددریم ټولګي محصلینو ته چانس ورکول کیږي.

**۳،** کوم محصلین چې غواړي په یادو برنامو کې ګډون وکړي، باید په تیر سمستر کې ۸۰٪ فیصدي ولري او د انګیسي ژبې او کمپیو تري پروګرامو نو سره بلدتیا ولري.

**۴**، محصلین به دځانګړې ازموینې له لارې کلینیکي برنامو ته جذب کیږي، چې دازموینې ټولې چارې دحقوقي کلینیک مدیریت لخوا تنظیمیږي.

**۵،** کوم محصل چې یاده برنامې ته بریالی شو، دحقوقو  او شرعیاتو پوهنځیو اصول او مقررات او په کل کې د تابش پوهنتون حیثیت او پرستیژ په نظر کې ساتي.

**٦،** هره برنامه یو امتیاز ده او کوم محصل چې په یوه برنامه کې بریالی او وروسته یاده برنامه ترک کړه، محصل نشي کولای ترڅو بله برنامه کې ګډون وکړي، ترڅو چې محصلینو ته کلینیکي برنامې ورسیږي، کله چې ټولو محصلینو برنامې واخیستلې وروسته بیا دوی کولای شي بله برنامه کې نوم لیکنه وکړي او تعقیب کړي.

**۷**، که کوم محصل په کلینیکي برنامه کې دڅلورو هفتو زیات غیر حاضر شو  دکلینیکي برنامې څخه محرومیږي.

**۸**، هیڅ محصل نشي کولای چې دکلینیکي برنامې په جریان کې دکلینیک په نوم بل ځای ته ولاړ شي، احیاناً که داسې وشو محصل سره قانوني چلند کیږي.

**۹**، هر محصل مکلف دی چې دټولګي ټول اصول مراعت کړي او  که داستاد په تدریس سر نه خلاصیده نو د صنف نظم ته په کتلو سره داستاد څخه پوښتنه وکړي.

**مضامین:**

محصلینو ته باید جزایي ، مدني مضامین او د کورنیو حقوقو  مضامین تدریس شي.

**دټولنې لپاره حقوقي خدمات وړاندې کول**

دحقوقي کلینیک غړي او په ځانګړي ډول مدافع وکیلان او ټرینران د هغه بې وزله اشخاصو سره چې نه شي کولی په خپل شخصي مصرف خپلې ستونزې حل کړي په لاندې برخو کې مرستې ترسره کوي:

**الف**، دقضیو پرمخ وړل، دحقوقي کلینیک غړي او په ځانګړي ډول مدافع وکیلان ټولنې سره دمرستې دترسره کولو په خاطر دبې وزله اشخاصو دوسیې په ځانګړي تخفیف محاکمو کې پرمخ وړي او مزد به دمراجعه کوونکي شخص اقتصادي او ټولنیز وضعیت ته په کتو ټاکل کیږي.

**ب**، حقوقي مشورې ورکول، دحقوقي کلینیک غړي او په ځانګړي ډول مدافع وکیلان او ټرینران دالله درضا حاصلولو،ټولنې سره دمرستې او ونډې اخیستو په خاطر بیوزلو اشخاصو ته حقوقي مشورې ورکوي دمشورې دورکړې مزد هم دشخص داقتصادي او ټولنیز وضعیت او دمشورې نوعیت ته په کتو باندې ټاکل کیږي.

**د تابش پوهنتون دحقوقي کلینیک درسي پلان:**

درسې پلان له لاندې برخو متشکل دی:

**لومړی:** نظریاتي یا مهم تیوریکي درسونه.

**دویم:** داړونده ورقو او فورمو سره اشنایې.

**دریم:** دقاضیانو، څارنوالانو او مدافع وکیلانو لخوا داړونده اجراآتو په اړه درس.

**څلورم:** دعلني محاکمې، څارنوالۍ او دقوماندانۍ دجنایي او کریمنال تخنیک له شعبو څخه کتنه.

**پنځم:** تمثیلي محاکم.

**نظارت او ارزونه**

د هر درسي ساعت او عملي فعالیتونو څخه به ښاغلی استاد عبیدالله شینواری، د حقوقي کلینیک مدیر، منظم نظارت کوي. همداراز، د سمستر په اوږدو او پای کې به د کلینیک د فعالیتونو ارزونه ترسره کېږي، نوموړی به وخت په وخت له محصلینو سره ناستې کوي، د هغوی نظریات به ترلاسه کوي، او د درسونو، کړنو او تدریسي میتودونو په برخه کې به لازم بدلونونه راولي، څو تدریسي بهیر لا اغېزناک او مؤثر شي.

چې پورته ټول موارد دحقوقي کلینیک ټولو برنامو کې دتطبیق وړ دي.

په درنښت

پورته ذکر شوی طرزالعمل دحقوقي کلینیک بورډ په ( ۱ ) ګڼه ۲۱ / ۱ / ۱۴۰۴ نیټې پروتوکول کې ثبت او تائید ده

دحقوقي کلینیک بورډ مشر ( )

پورته طرزالعمل د پوهنتون علمي شورا په ۳۰ / ۲ / ۱۴۰۴ نیټه غونډه کې تائید او په ( ۲ ) ګڼه پروتوکول کې ثبت شو.

علمي شورا تائید